پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۷/۱۱/۰۴

# د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې

## د تاوتريخوالي سونامي

### دريمه برخه

زموږ د ګلاليو ماشومانو او کوچنيانو سترګې او ځيرې موږ ته وايي:

موږ د ژوند په هغه پړاو کې يو چې نه غواړو د خبرو اوريدو په ځای مو
پر مخ څپیړې ولګيږي، موږ نه غواړو چې د مثبتو لوستونو او
موزيک د اوريدو پر ځای د ټوپک او بمونو درزا واورو.

*****

د ماشوم د حقونو اړوند، که د افغانستان ټولنه، په ټول کې وارزول شي،
داسي بايد وويل شي چې زموږ ټولنه د ماشومانو او کوچنيانو له پاره
د مځکې پر مخ د يوه ريښتيني دوزخ حيثيت لري.

زموږ په ټولنه او زموږ په هيواد افغانستان کې له ماشومانو او کوچنيانو سره تاوتريخوالی، ماشوم زوورنه او د هغوی حقوقو او روزنې ته نه پاملرنه په داسي يوه موضوع بدله شوې ده چې اوس تقريباً تر نوي يا پنځه نوي سلنه مشران وهل ټکول او د ماشوم او کوچني بدني او روحي زوورنه خپل حق ګڼي او داسي فکر کوي چې دوی ماشوم او کوچنی په دې دليل وهي ټکوي چې له بدو کارو را واوړي.

زموږ ډيره سلنه زدکړي هيواد وال لا د دې ناسمې پاليسی له مخې: «چې ډب نه وي، ادب نه وي» د هغوی په وهلو او زوررولو لا ویاړ هم کوي.

زموږ د ټولنې پر ماشومانو او کوچنيانو باندې د تاوتريخوالي سونامي دې حد ته رسيدلي ده چې اوس يې مخنيوی ستونځمن نه، بلکې د نه کيدونکي برید ته ورنږدې شوی ده. دولت اصلاً دې موضوع ته هيڅ پام ځکه نه کوي، چې دولتي مسولين داسي کسان ګمارل شوي دي چې نه ماشوم، نه کوچنی او نه هم نوی نسل پيژني، نه يې له حقوقو خبر دي او نه هم پر دې پوهيږي چې د نوي نسل د ناسمې روزنې عواقب به کورنيو او هيواد ته او ټولنې ته څه وي. د ورکتون ښوونکې د دريو يا څلورو کلونو ماشوم په سوکانو اولغتو وهي، په ښونځيو کې يې ښونکي وهي په کورنی او کوڅه کې يې مشران وهي ډبوي او...

ماشوم په هر سن کې خانته روزنه او پاملرنه غواړي، موږ سر بيره پر دې چې ټاکلي او اړينه پاملرنه نه ورته کوو، د وهلو ټکولو او تحقيرولو ډالې هم ورکوو، په دې نه پوهيږو چې زموږ دا چلن د ماشوم په فزيکي او رواني حالت باندې څومره بده اغيزه کوي. مثلاً د اوو يا اتو کالو يو کوچني باندې همدې ټولنې او مشرانو داسي حالت راوستی دی چې هغه د خښتو کار ته اړ وزې، د خښتو هغه قالب يا هغه خښتې چې ماشوم جګوي او ليږدوي يې، د هغه پر فزيکي ودې باندې څه ډول منفي تاثير کوي، دې خبرې ته د چا پام هم نه دی.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ



دغه راز د جګړې اصلي قربانیان ماشومان او کوچنیان دي، ځکه چې د تیښتې او پټېدو په چم نه پوهیږي او د دې توان نه لري چې د مشرانو د جګړې له اور نه ځان خلاص کړي. لاندې عکس ته ښه ځیر شئ:



دا ماشوم چا په وینو ولاړه، ولې د څه له پاره د کومې موخې په غرض او نورې داسې پوښتنې چې یا یې څوک ځواب نه شي ویلای او یا هم داسې ځوابونه ویل کیږي چې هر څه په خامو تارونو تړي او په تقدیر یې ورسپاري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

زموږ په ټولنه کې د ماشوم زوروني د سونامي د درولو له پاره ځوک د یو سپن په اندازه هم څه نه وايي او که ځوک څه وليکي او يا يې و وايي، د نورو له پاره حتی د خندا او تمسخر وړ مسأله بريښي. کله چې ما د کوچنيانو د ادبياتو په نامه مقالې او کتابونه خپاره کړل، ما ته مخامخ ويل شوي دي چې:

«تا له ځان نه څه ماشوم جوړ کړی دی، بل څه نه شته چې فکر او ليکنه پرې وکړې.»

د داسې ټيپ خلکو پاليسي دا ده چې:

«وې زيږوه، وزن يې مځکه جگوي، روزي خدای ور رسوي»

دوی د ماشوم  او کوچني د حقونو په نامه هيڅ شی نه پيژني او د راتلونکې ټولنې په باب چې همدا کوچنيانو به يې رهبران وي؛ هيڅ فکر هم نه کوي.

دلته په اروپا کې په ډنمارک کې مې داسې څلور بول ليدلی چې زما په مخ کې يې خپله وړه لور په څاپيړو وهله. کله مې چې ورته وويل چې دا ماشوم ولې وهې؟ را ته وې ويل چې:

«پريږده چې ډار مې ورسره وي، چې په غټوالي کې هرڅه ورته ووايم ، بيا «نه» و نه وايي.»

په اروپا کې، په تيره په ډنمارک کې د ماشوم زورونه او وهل ټکول لوی جُرم دی او عاملين يې زندان ته هم ليږل کيدای شي، خو اوغان لالا خپل ماشوم په دې موخه واهه ټکاوه چې د تل له پاره د پلار ډار ورسره وي.

د ماشوم مادي او معنوي روزنې او ژوند (لکه کافي تغذيه، د اوسيدو له پاره مناسب ځای،، د زدکړو او تحصيل مناسب وخت او ځای) ته نه پاملرنه؛ د هغوی د هر اړخيزې ودې مخنيوی کوي چې پايله يې دغسې وي لکه اوس چې زموږ ټولنه، زموږ خلک او ډيرې کورنۍ ورسره لاس گريوان دي.

د پرمختللو ټولنو د برياليو راز په دې کې دی چې له ټولو لومړيتونونو نه مخکې ماشومان په درجه يو لومړيتوبونو کې درول کيږي او رسيدگي ور ته کوي.

د دريمې برخې پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ